# دلوګر نوموتي او وتلي څېرې / چهرهای مشهور و شناخته شده لوګر

## شهید استاد سید رسول آغا



استاد سیدرسول آغا شهید از چهره هاي جاویدان جنبش پیروزمند کشور بخون خفته افغانستان عزیزماست، او چون ستاره درخشان ومهرتابناک درعنفوان جوانی دل ظلمتها را شکافت وبا پیکاربی آمان ومبارزات پیگیرخود پردهای سیاه را در همه نوردید و نه تنها چون سپاهی جانباز بلکه بصفت الگوی بارز و پیشتاز مبارزه با إیمان راسخ وعزم خلل نا پذیر شهامت کم نظیر و با قلب و اندیشه سرشار منحیث یک ترجمان واقعی مردم مسلمان افغانستان عزیز بپأ خاسته و به مبارزه آغاز کرد، وتا آنگاه رزمید مردانه وار در پاي هدف اسلامی أش قربان شد.

او هدفمند در مبارزه ثبات وپایمردی در طول حیات ۴۲ ساله اش همگنان به همه اصل ونسلها عملاً نشان داد و تا واپسین لحظات زندگی ثابت قدم واستوار درین راه گام برداشت واندکترین تردید و لو برای یک لحظه هم در راه که انتخاب کرده بود به دل واندیشه اش راه نداد وبا پایمردی واستقامت مشتهای کره گرده اش را به پوزه ودهان یاوه سرایان مکتب کثیف ماکسیزم وارد آورد و آنها را در برابر نطقهای آتشین خویش به زانو درآورد، شهادت اش ضیاعیست بس بزرگ و جبران نا پذیر.

استاد شهید در بهار ۱۳۲۸هـ ش دو روز پس از مرگ پدر بزرگوارش مرحوم سید سردار آغا وجود زینت بخش محیط فامیلی اش گردید و در آغوش مادر مهربان اش بی بی آمنه با بهره وری استعداد فوق العاده آموزش های اولیه دینی را طی کرد، والده بزرگوارش با آنکه کدام فرزند دیگر نداشت تربیت او چون یگانه فرزند همت گماشت در نخستین سالهای صباوتش او را به تعلیم ضروریات دینی نزد عالیترین علمأ آن زمان مولوی صاحب عبدالستار و مولوی صاحب عبدالخالق که از دوستان نزدیک پدر مرحوم اش بود مصروف ساخت و دوره ابتدایه را از مکتب ابتدایه ولسوالی محمد آغه لوگر به درجه عالی فارغ و شامل لیسه عالی ابن سینا کابل گردید.

در سال ۱۳۴۷هـ ش در چوکات تشکیلات وزارت معارف در لیسه عالی کلنگار ولایت لوگر شروع به تدریس در مضامین مختلف کرد بعد از مدت کوتاه ازلیسه کلنگار به لیسه سیدآباد ولایت وردگ تبدیل گردید مدت نگذشته بود بحیث سرمعلم لیسه معرفی گردید در لیسه ولسوالی محمد آغه مصروف وظیفه مقدس معلمي بود که موفق به أخذ چانس تحصیلات عالي به کشور هندوستان گردید، ودر سال ۱۳۵۰هـ ش شامل پوهنتون دهلي نو در رشته تاریخ وسیاست (political sience) شد.

بعد از سپری نمودن دوره لیسانس مصروف تحصیلات عالی دوره ماستری بود که انقلاب اسلامی به سرپرستی پوهاند غلام محمد در پوهنتون کابل آغاز به فعالیت نموده بودند بدون اینکه به نفس خود وقت داده راهی کابل شد عهد اسلامی بسته برای جمع آوری فرزندان راستین وطن خویش دوباره عازم هند گردید و انجمن را تشکیل داد که بنام انجمن إسلامي محصلین افغان در هند اعلان تشکیل نمودند که استاد شهید بحیث ریس انجمن فعالیت مینمودند هفته نامه و ماه نامه داشتند (طلوع، آزادی، غزأ) راه پیمایها را علیه حکومت دست نشانده مارکسیزم براه انداخت بعدا در سال ۱۳۵۷هـ ش با جمعیت اسلامی تحت سرپرستی استاد ربانی در پشاور پاکستان شروع به فعالیت های فرهنگی نمود، و بصفت همکار و بعدا بحیث مدیر جریده مجاهد و همکار دایمی مجله میثاق خون فعالیت کرد ودر تشکیلات اتحاد أسلامی افغانستان تحت رهبری استاد عبدالرب رسول سیاف آمر آژانسها مقرر گردید و مضامین سیاسی و فرهنگی را بعنوان فریاد جهاد و مردم مسلمان افغانستان در روزنامه هاي خارجي روزنامه جمهوري إسلامي چاپ ایران روزنامه (Dawn) چاپ مدیا پاکستان مجله (Times) چاپ آمریکا (Gulf) چاپ ممالک عربی به نشر میرساند در تشکیلات حکومت موقت ریس عمومي رادیو وتلوزیون بود ودر روزنامه صبح پیروزی فعالیت هم مینمود مضامین تاریخي، سیاسي و ترجمه هاي مضامین انگلیسی رابه چاپ میرساند بدون شک لحظه آرام نگرفته جریده رآه اسلام که زبان زد عام وخاص بود به چاپ میرساند استاد شهید که مردی آبدیده در سیاست و مبارزه بود و فعالیتها مثمر را براي دست یأبی به یک هدف مشترک إسلامي افغانها داشت فعالیت هاي منسجم ساختن مجاهدین را در جبهات داغ شروع کرد وموفق به تشکیل شورای سرتا سری در لوگر شد که از طرف مجاهدین استقبال شد و منحیث ریس شورامجاهدین لوگر (همه أحزاب إسلامي) از طرف مجاهدین تعین شد.

صف مجاهدین بدون شک داراً شخصیت هاي توانا، جرأتمند بود مگر این یک ستاره درخشان و بي همتأ بود، معرفي این فرزند مظلوم تنها در معرفی شخصیت راه و اندیشه او خلاصه نمیشود بیان کامل پهلوها وزوایای گوناکون شخصیت و أبعاد مختلف تفکر و مکتب استاد شهید با آرائه تصور واقعی و راستین إز راه و اندیشه او مهم ترین و دشوار ترین کار در فراروی دوستان ویاران آن زاید دلاور عزیز است، براي شناختن یک انسان مصمم وعملگرا، همیشه رفتار کار عملي او میعار و ملاک قضاوت و معرفت قرار میگرد ام قدرت تصمیم ویژگي عملگرایي آغا صاحب از صلابت و صولت چهره ظاهري او نیز قابل درک و شناخت بود، ارزیابي و تحلیل دقیق و عالمانه از رآه واندیشه آن شهید سعید و بزرگ جهت پژوهش و دریافت کمبود ها و اشتباهات در مسیر مبارزه و عمل، بخشي دیگر إز وجیبه و رسالت دوستان و یاران او شمرده میشود، از استاد شهید ۳۲ جلد کتاب و صدها مقاله بجا مانده همیشه یک آرزو داشت میگفت (انقلاب مسلحانه ملت به یک انقلاب عمق فکري نیز ضرورت دارد، این دو انقلاب را از هم جداً نپندارید چه در غیر آن شکست خواهیم خورد یک انقلاب فرهنگي که بتواند ریشه استعمار را از بیخ کنده و فرهنگ اصیل اسلامي را جانشین آن سازد.) استاد شهید سفرهاي به نمایندگي از مجاهدین به کشور هاي آمریکا، استرلیا، اروپا و ممالک عربي هم داشته که استاد عبدالله گل در سر گذشت نامه اش هم از معصومیت آغا صاحب بیان نموده. بلآخره دشمن صفاک و بزدل قصابان خونخوار خود را راهي پلان شوم خود را پیاده نمودن در جوف قرآن عظیم الشان ماین تبیعه نموده روز نوروز اول حمل ۱۳۷۰هـ ش مطابق پنجم رمضان ۱۴۱۳هـ ق بعد از ادإ نماز عصر حین تلاوت کلام الله مجید بشهادت میرساند روح أش شاد و یاد أش گرامي باد!

**سید اسماعیل**

## لوګر پیژندنه / لوګرشناسی

موږ سره مرسته وکړئ، چې ستاسو کلی هم در وپیژنو!

### سلطان صیب غر

که څه هم دغه سیمه کوم تاریخي ارزښت نه لري، خو له افسانوي ارزښت څخه ډېره برخمنه ده. نو ځکه په دغه لیکنه کې بې یادونه اړینه بولم. سلطان بابا دلوی خدای «ج» دوست او ولی الله ؤ. په زړه ډېر نرم او لورین ؤ. هیچاته په سزا ورکولو خوښ نه ؤ. نومړی دلوګر افسانوي او اسطوریزو کیسو مذهبي زورواکی او ولي الله تیر شوی دی.

سلطان صیب په متهو ډېر غښتلی سړی ؤ. خلک داسې وایي چې: کله سلطان صیب پر دې پوه شو، چې په آخرت کې دمسلمانانو لپاره جنت او دکافرانو لپاره دوزخ جوړ شوی، نو سلطان صیب د دوزخ په جوړېدو سخت خواشینی شو. په همدې فکرونو کې ؤ، چې دمحمد آغې سرخاو کلي ته خیرمه غره ته وخوت او په همدغه غره کې یې د دوزخونو د ورانولو تکل وکړ، چې دوزخونه له منځه یوسي. سلطان صیب وروسته له دې پریکړې په همدغه غره کې تر ننه پورې غیب او تري تم شو. دغه غر چې د سلطان صیب غره په نامه یادیږي په سرخاو کلي کې پروت دی، له دغه غره څخه لړ. وړاندې دلته بند لاره ده. داغر تل په واورو پټ او ګنګل وي او داوسیدو څه امکانات په کې نه لیدل کیږي.

ولسي وګړو ګروه دا ده، چې خدای «ج» دخپل ددغه دوست له دې پریکړې څخه ناخوښه شو او نومړی یې په همدغه غره کې په کچه ګوته په زنځیرونو وتاړه. خلک وایي، چې کله سلطان صیب چې په غره کې په زنځیرونو تړلی دی، له زنځیرونو خلاص شي، نو ټول دوزخونه به له منځه یوسي او رنګ به یې کړي. په دې اړه په لوګریانو کې ځانګړې سندره هم ویله شوې ده.

**سلطان ګرندی پیر ده تړلی په زنځیر ده**
**که خلاص سو دی به وران کړي دوزخونه جوړ به کړي جنتونه**

وایي، چې یوه ورځ یوه کوچۍ شپنه د خپل سیرلي په لټه پسې ددغه غره یوه سوري ته ننوته، هلته یې سلطان صیب ولید، چې په زنځیرونو تړلی ؤ او اوږده ږیره یې وه. سلطان صیب دې پیغلې ته د ډالۍ په توګه یوه سره منه ورکړه، چې دده حال به چاته نه وایي. شپنې هم ورسره ژمنه وکړه، چې د سلطان صیب حال به چاته نه وایي. خو کله چې کوچۍ کلي ته ستنه شوه او خلکو یې په لاس کې په سوړ ژمي کې سره او تازه مڼه ولیده پرې شکمن شول او ورڅخه یې دحال پوښتنه وکړه. کوچۍ مجبوره شوه چې خپل دسترګو لیدلی حال یو په یو دوی ته نقل کړي. کوچۍ شپنې دسلطان صیب ټوله کیسه کلیوالو ته بیان کړه او وروسته له دې بیا نو کوچۍ شپنه ګونګۍ او لیونۍ شوه.




له دې اسطورې څخه مونږ دوه اخیستنې تر لاسه کولی شو. یوه دا چې دا کیسه مذهبي او ګروهی اړخ لري او کټ مټ یې اسطوره بللی شو. مسلمانان په دې عقیده دي چې، دقیامت له علامو څخه یوه داده، چې مهدي «ع» به راځي او له کفارو سره به جنګ جګړې کوي. همدا ډول مسلمانان پر دې ګروهمند دي، چې په اخره زمانه کې عیسی «ع» له آسمانه راکوزیږي، دځلوینښتو کالو لپاره به یوه عادلانه واکمني کوي، ظلمونه به ختم کړي، ظالمانو ته به سزا ورکړي او مظلومان به په خپل حق ورسوي.

په همدې شان اهل تشیع وال معتقد دي، چې امام حسین او امام حسن د اخرې زمانې د رارسیدو او د یوه اسلامي واکمنۍ لپاره په یوه غره کې چمتوالی نیسي. خو دا څرګنده نه ده، چې دا غر به کوم غر وي. اهل تشیع وال په دې ګروهمن دي، چې کله ځمکه لړ څه ولړزیږي، نو دوی ورته ګذر وایي او دا مانا ترې اخلي، چې ګواکې د ګذر پر مهال د ځمکې په تل کې د امام حسین او امام حسن دآسپونو کاروانونه او قافلې رواني وي. نو ځکه ځمکه لړزیږي.

د سلطان صیب کیسه کټ مټ دغو کیسو ته ورته ده. دنومړي په کیسه کې دویمه اخیستنه دا ده، چې دده موخه د دوزخونو له ورانولو څخه زما په آند داده، چې ده ظلمونه او ناخوالې په نړۍ کې له منځه وړل کله چې د ځمکې له مخ نه عدالت او نیاو ورک شي، زورزیاتی وده وکړي، نو همدا رنګینه نړۍ خلکو ته سور اور او دوزخ ګرځي او دوزخ ته ورته څیز ترې جوړیږي. نو ځکه دده د دوزخونو له منځه وړل همدا د ناخوالو له منځه وړل دي. او جنتونه جوړول دا مانا لري، چې ګوندې دی به یو داسې ښکلې او عادله نړۍ رامنځ ته کړي، چې د جنت په څیر وي. هلته به هیڅ ډول تاو تریخوالی، زور زیاتی او ظلمونه نه وي. حق به حقدار ته رسیږي. د جنت په څیر ښکلې خوشاله او رنګینه نړۍ به رامنځ ته کړي.

**سرچینه: لوګر ویب سایټ**

## لوګر عامه کتابتون






دا د لوګر ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست اړوند عامه کتابتون دی، دلته هره ورځ په لسګونو ځوانان د بیلابیلو کتابونو مطالعې ته راځي، ځینې یې دلته کتابونه لولي او یو شمیر نور یې بیا له ځان سره د څو ورځو لپاره وړي او په خپلو کورونو کې مطالعه کوي.

د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست مسؤلین وایي، چې په دا وروستیو کې یې د کتاب لوستنې په برخه کې ډېر عامه پوهاوی کړی او په سلګونو کتابونه یې خصوصي ښوونځیو، راډیوګانو او په نورو بنسټونو یې ویشلي، نو ځکه د کتاب لوستنې مینوال هم زیات شوي چې د روښانه راتلونکي لپاره ښه زیری دی.

اوس مهال د لوګر ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست عامه کتابتون سربیره په محمد آغې ولسوالۍ او برکي برک کې هم فعال کتابتونونه لري. په عامه کتابتون کې شا او خوا (۱۲۰۰۰) ارزښتمن کتابونه د لوستونکو په مخ پرانیستي او د محمدآغې او برکي برک کتابتونو کې (۴۰۰۰) کتابونه موجود دي.

په لوګر ولایت کې د کتاب لوستنې دود مخ په بره روان دی او د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست هڅه کوي، چې دې دود ته په راتلونکي کې نور هم ډېره پاملرنه وکړي. **اداره**



# خلک او فیسبوک

**Shukrullah Liwal**



ښه اوربدل یو مهارت دی چې تاسې یې باید د خپلو ماشومانو په وړاندې عملي کړئ.

د خپل ماشوم خبرو ته په نرمۍ سره غوږ شئ او خبرې یې مه پرې کوئ. کله چې د هغه خبرې پای ته ورسېدې، له هغه څخه خپلې پوښتنې په دوستانه ډول وپوښتئ.

**Islamuddin Baha**



خوشبختی سراغ کسانی میرود که خندیدن را بفهمند. این زندگی نیست که زیباست این ما هستیم که زندگی را زیبا یا زشت می بینیم. دنبال رسیدن به یک خوشبختی بی نقص نباشید از چیزهای کوچک زندگی لذت ببرید اگر آن ها را کنار هم بگذارید می توانید کل مسیر را با خوشحالی طی کنید.

**خواجه محمد نعیم قادری**



صلح و امنیت نیاز اصلی ما!

امروز بیش از هر چیز نیاز مبرم به صلح و امنیت داریم و تمام شهروندان کشور هم خواهان صلح و آشتی اند، خشونت گران جای در بین مردم ندارند. تداوم جنگ و کوبیدن بر طبل خشونت و جاری کردن جوی خون نه نیاز ما و نه خواست ما و نه به نفع کشور ما است.

جنگ و خشونت تنها به نفع سازمان های جاسوس، استکبار جهانی و شماری کسانی که از تجارت جنگ و مواد مخدر سود می برند.

**Ata Mohammad Miakhel**



په خپل ژوند کې هغه کسان وساتئ، چې واقعاً له تاسو سره مینه لري؛ تاسو ته انګېزه درکوي، هڅوي مو؛ ستاسو له پاره الهام ښښونکي دي، تاسو لوړوي او ستاسو د خوشالۍ او نېکمرغۍ سبب ګرځي.

**ژباړه**

# جنګونه ودروئ!!

ای د جنګ غاړو دا روان جنګونه ودروئ
دا د افغان په وینو ډک سیندونه ودروئ
ترڅو به هره ورځ رواني جنازې وي دلته
د خدای په پار دا ناروا قتلونه ودروئ
ولې دبل په لمسون خپل ښکلی وطن ورانوئ؟
په خپل وطن کې د جګړې اورونه و دروئ
د کونډو رنډو یتیمانو غږ آسمان ته رسي
نور مو په کلیو راروان بمونه ودروئ
زمونږ د خاورې هر قدم په هدیرو ډک سوی
بس کړئ، وطن کې په هر کور غمونه ودروئ
تر څو به دا وطن سوزیږي د جګړو په اور کې
جنګونه ودروئ دا مرګونه ودروئ
د وطن موردی چې ځوریږي دبچو په ویر کې
نور دې ویرجنې وطن مور دردونه ودروئ

**حفیظ الله «خالد»**